# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

**AA-AA**

*چو کشور نباشد تن من مبـــاد		بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد*
*همه سر به سر تن به کشتن دهیم		از آن به که کشور به دشمن دهیم*

afgazad@gmail.com		www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|

بسمل
۱۳/۱۱/۱۰



# لر او بر دل او ځگردي

عزتمنو لوستونکو!

دلویدیځ او ختیځ المان په ځېر زموږ لر اوبر هم حق لري چې کرغېړنه کرښه یې له مینځه لرې او سره وصل شي د همدې لوی ارمان لپاره نن بایرن مېشتو افغانانو د ۱۸۹۳ ز کال دنومبر د ۱۲ دولسمې نېټې تحمیلي او جعلي موافقتنامه چې پوره ۱۱۷ یو سل او اوولس کاله یې تېر شول داحتجاج لیکونو په طرځ کې وغندله .

نن دنومبر په ۱۲دولسمه نېټه دجرمني په مونشن ښارکي دبایرن مېشتو افغانانودکولتوري ټولنې په نوښت یو شمېر افغانانو د ډیورنډ منحوثه کرښه وغندله او په دې اړوند یې دجرمني په برلین ښار کې دبرتانیاسفارت او په مونشن ښار کې د برتانیا کونسلګري ته رسمي احتجاج لیکونه ورکړل .

موږ له برتیانیوي چارواکوڅخه په رسمي توګه دډیورنډ د تپلي او کرغېړني کرښې له مینځه وړل وغوښتل .

مخکې له دې چې موږدمونشن په ښارکي دبرتانیاکونسګري ته ورشولمړی مو د برتانیا له سفارت سره چې په برلین کې دی تیلیفوني اړیکه ټینګه او په سرہ سینه موخپلې مشروع غوښتنې مېرمن لات Lath ته وړاندې کړې هغې زموږ غوښتنې په لیکلي ډول وغوښتې موږ هم په لنډوجملوکې خپلې غوښتنې ورفاکس کړې له هغه ځخه وروسته مېرمن لات Lath وعده وکړه چې ستاسو غوښتنې به موږ لندن ته ولېږو اوپه راتلونکوورځوکې به تاسو ته رسمي ځواب درکړو هغې له موږ څخه داهیله هم وکړه چې موږ خپلې غوښتنې په سولیز ډول سره د دوی کونسلګري ته چې په مونشن کې موقعیت لري ور ورسووالبته دا خو زموږ په پلان کې هم و چې د دوی کونسګري ته ور شو.

وروسته له تیلیفوني اړیکواواوږده بحث څخه موپه رسمي ډول سره خپلې غوښتنې ورفاکس کړې .

په مونشن کي دکونسلگري له مسؤل کس ښاغلي نيتځير Nitzer سره زما خبرو نږدي شل ۲۰ ميلټه وخت ونيو هغه ظاهرأ زموږ له غوښتنو سره کوم مخالفت نه درلودکله مي چي د برلين د دېوال د نړېدو مثال ورکړ هغه له واره ووېل چي هو ولسونه بايدوررولي ته پرېښوول شي آن دشمالي اوجنوبي کوريا له خلګو سره يې هم خپل زړه سوی وښود خو نن سبا په چا باور وکړو؟

په هر صورت ښاغلي نيتځير Nitzer هم موږ ته ټينګه وعده راکړه چي ستاسوغوښتني به په بيړه سره لندن ته ولېږو چي داځنګه يي ځواب راشي تاسو ته به په رسمي ډول خبر درکړو .

درنو خوينــــــــدو او ورونـــــــــو!

بنده پـه وس پړ دی زموږ پـه وس همدوره وو چـي دخپلو حقه حقونـو لپـاره موخپل غږ لـه جرمنـي ځخه ترلندنـه پوري ور ورساوه نور به له خدای (ج) ځخه مرسته غواړو.

دا هم بايدزياتـه کړم چي لايوه شپه مخکي موږ د BBC راديو تـه خبر ورکړی وچي موږ سبا ورځ پـه جرمني کي دبرتانياسياسي نمايندګيو ته احتجاج ليکونه او غوښتني وړاندي کوو .

يادونـــــــــــــــه :

سبا ته نه بل سبا ديکشنبې په ماخستن داروپا په وخت دشپې په لسو بجود ډيورنډجرګي دوهم تلويزيوني بحث د اريانا افغانستان تلويزيون له لاري د دريو کېنتو لپاره خپرېږي هيله ده چي په زړه پوري به وي.

**http://nakhtar.bloguna.tolafghan.com/posts/13663**

دا هم بايد زياتـه کړم چي د خونړي هنري ماتمر ډيورنډ دنـاولي کرښـي پـه اړونـد مـي وړمـه ورځ چـي د نومبر يوو لسمه نېټه وه د آزادي له راديو ځخه هم دنړيوالوغوږونو ته دلر اوبرغږ ورساوه هيله من يم چي پاک سبحان په خپل لطف سره افغان ولس سره يو موټی اونور موله دي ناورين ځخه وژغوري .